شاه ولی ارین

۲۰۲۰/۰۹/۱۲

# په استقلال پورې اړوند څو ارزښتمن مفاهیم

## (لومړۍ برخه)

په دغه مقاله کې به، له ۱۷۴۷ میلادی کال نه بیا د ۲۰۲۰ میلادی کال تر ننه پورې له استقلال سره تړلي دغو ارزښتمنو مفاهیمو او ځینو تاریخي پیښو او حوادثو باندې رڼا واچول شي:

**ـ افغانستان د یو هیواد په توګه،**

**ـ په افغانستان کې استعماري سیاستونه،**

**ـ پر افغانستان باندې بهرني استعماري یرغلونه،**

**ـ استقلال،**

**ـ د هیواد اصیل ملي قهرمانان او په نوم ملي قهرمانان او مارشالان،**

**ـ د افغان دولت او طالبانو تر منځ په روانه سوله کې د امریکا لوبې.**

دا یو څرګند حقیقت دي چې تاریخي واقعیتونه او پیښ شوي حوادث هیڅوک مسخه کولای نه شي. کله، کله ممکن د زمان او حاکمیتونو شتون، د پیښو تعبیر یا اصلي بڼه بدله کړي او پیښې په خپله ګټه را وڅرخوي، خو د تولني په بهیر کې داسې حقیقي او ملي شخصیتونه شتون لرې چې په ډېره امانت دارۍ سره حقیقتونه او تاریخي پیښې ثبت او راتلونکو نسلونو ته په لاس ورکوي.

زموږ د هیواد تاریخ، له حماسو، قهرمانیوو، خوشالیو، دردونو، افتخاراتو او ناکامیوو،غیرت او پردیو ته د مریتوب، ناپوهیو، بیسوادیو له خوږو او ترخو حکایتونو او کار نامو ډک دی، چې په خواشینی سره کله ناکله مو د بهرنیو دښمنانو د توطیو په نتیجه کې د دوي د کورنیو لاسپوڅو له لورې پر حقیقتونو پرده وغوړول شي او پر ځای یې باطل حق وپیژندل شي او حق باطل.

مګر د تاریخ حافظه ډیره ستره او پیاوړې ده، تاریخي پیښې ثبتوي، ساتي یې او د راتلونکي نسلونو له پاره یې یوه ورځ نه یوه ورځ بیانوي او ولسونو ته یې په امانت دارۍ سره سپاري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## ـ افغانستان د یو هیواد په توګه:

دا چې په قندهار کې د فیوډالي سیستم د ورو، ورو تکامل په نتیجه کې د خلکو پرله پسې مبارزو د بهرنیو تاثیراتو پر ضد په افغانستان کې د یو قوي مرکزي دولت د منځته راتلو زمینه برابره کړه. همدا وجه د دې لامل وګرزیده، چې د هیواد په تاریخ کې د لومړی ځل له پاره په ۱۷۴۷میلادی کال د اکتوبر په میاشت کې، کله چې نادر افشار ووژل شو، لښکر او ځواک یې مات شو، د افغانانو د سترو قبیلو په یوه لویه جرګه کې چې نه (۹) ورځې یې دوام وموند، په پای کې همدې جرګې د خپل مشر د ټاکلو له پاره یو دیني عالم ته چې د جرګې ټولو ګډونوالو ته د منلو وړ وو، واک ورکړ، چې پر هرچا یې ګوته کیښوده هغه به بادشاه وي.

دغه روحاني او سیاسي شخصیت چې صابرشاه نومیده په خورا دقت او سوچ یې دغه استعداد په احمد خان ابدالی کې ولید، را پورته شو د غنمو وږی یې پر خولی ور وتومبه او د افغانستان د پاچا په توګه یې جرګې ته اعلان او وروپیژاند. چې له همغه تاریخ نه تر اوسه دغه هیواد د افغانستان په نامه یادیږي او تاریخي عظمت لري.

دا چې ستر احمد خان ابدالی ته د احمدشاه بابا لقب ورکړ شو، د ده د حکومت په پنځه ویشت (۲۵) کلنه دوره کې یې داسې چارې تر سره کړی، چې د خپل ولس او قومونو تر منځ یې د دوې په زړونو کې ځای وموند، هیڅکله یې د پادشاهی تاج پر سر نه کړ، د دربار مصارف یې راکم کړل د کارمندانو او ساتونکو معاش یې لوړ او په خپل وخت یې تر سره کول، هغه وشو کولای په ډیره لږ موده کې غښتلی اداره، پیاوړی او منظمه اردو تشکیل کړي.

احمد شاه بابا د ځلورو کلونو په شاو خوا کې د افغانستان سیاسي یووالي له امو د عمان تر بحر پورې او د سند له روده د ایران تر دښتو پورې ورساوه. ډیر فتوحات یې وکړل، څو واره یې ترهندوستان پورې لاس اوږد کړ، چې ډیره مهمه او تاریخي جګړه یې د پانی پت جګړه ده، ستره امپرتوریٔ یې جوړه کړه.

همدا ډول د کابل په ښار، قندهار، هرات، مشهد، اټک، پیښور، دیره جات، بهکر، سند، کشمیر، انواله، روهل کند، لاهور، ملتان په ښارونو کې احمد شاهي سکې د چلند وړ وګرزیدي.

احمد شاه بابا د۱۷۷۳ میلادی کال د جون په میاشت کې له دی بې وفا نړۍ نه د پنځوس کالو په عمر سترګې پټې کړې او د خپل عمر په ورستیو کلونو کې چې د مریضي په حالت کې و، خپل دویم ځوی تیمورشاه چې د ده په وینا تر ټولو اولادونو یې هوښیار او با تدبیره شخص و د ولیعهد او وروسته تر ده خپل ځای ناستی وټاکه.

(میرغلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، جلد دوم، صحافی احسانی، قم، ص ص ۵۹۴- ۶۱۹)

کله چې په دغه مقاله کې د مفاهیمو د ارزښتونو په هکله بحث کوم له تاریخي پیښو او حوادثو نه تیریږم، یوازې دومره ویلی شم چې د تیمورشاه او د هغه د ځوی شاه زمان د پادشاهي دورې هم د ستر احمدشاه بابا د امپراطورۍ د پولود ساتلو په لار کې تر ډیره حده د ستاېلو وړ دي، تیمورشاه یو مدبر پادشاه و، خپلواکه حکومت یې په داسي حال کې تر سره کړ چې د فیوډالانو د ګواښونو سره مخ هم و. د ده د پادشاهي په وخت کې په نړۍ کې مهم تحول د فرانسي ستر انقلاب و، چې د فیوډالانو سیستم یې ونړاوه ۱۷۸۹- ۱۷۹۵، د تیمورشاه د شل کلني پادشاهي په وروستیو کې کله چې دی پیښور ته ولاړ هلته ناڅاپه ناروغ شو، کله چې کابل ته راورسید ومړ. داسې ویل کیږي او امکان یې هم شته چې دا یو سیاسي مرګ و، چې د انګریزانو له لورې د زهرو له امله تر سره شوي وي.

دا یو حقیقت هم دی چې زموږ د هیواد د ارضی تمامیت بهرنیو دښمنانو په سر کې انګلیس، د ایران قاجاری شاهانو، روسانو او د شمال لورې یو شمیر فیودالي او قومي خانانو د تیمورشاه د یو شمیر نا اهله او بې کفایته، مقام او څوکې غوښتونکو اولادونو له ضعف نه په استفادې سره د ستر احمد شاه بابا د امپراتورۍ دیوالونه سوکه، سوکه ړنګ شول او هیواد یې د کورنیو جګړو او شخړو میدان وګرزاوه.

په دغه وخت کې د ایران د پادشاه فتح علی شاه قاجار په دربار کې د انګلیس نماینده او جاسوس«کاپیتان ملکم» د انګلیس د جاسوسي شبکو مشري کوله، دا هغه څوک و چې د افغانستان او شاه زمان پر ضد یې ټولې دسیسې جوړولې او عملي کولې یې.

دا هغه وخت و، چې د ایران پاچا د انګریزانو سره یو قرار داد امضا کړ چې په کې ویل شوی و(هر وخت کله چې د افغانستان پاچا د هند په لور د حملې فیصله کوي د ایران پاچا به په ټول قوت په افغانستان حمله کوي او د هغه وخت پورې به د سولې معاهده نه امضا کوي چې د افغانستان پاچا تعهد وکړي چې په اینده کې به د انګریزانو پر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ضد اقدام نه کوي. همدا ډول فتح علی شاه قاجار تعهد وکړ چي که چيرې د انګريزانو او افغانانو تر منځ جنګ رامنځته کيږي ايران به د انګريزانو د مرستي له پاره لښکر وليږي، د ايران پاچا ژمنه وکړه چي فرانسويان به د دښمن په توګه پيژني او د هغوي پرضد به اقدام کوي،هغوي به نه پريږدی چي د فارس په خليج او د ايران په نورو برخو کي مستقر شي.) په دی توګه انګريزي شبکو په قومي مشرانو کي نفوذ پيدا کړ، تر څو د شاه زمان پاچا چي دوی تری خورا ويره درلوده د سقوط زمينه برابره او د تيمورشاه بل ځوی شاه محمود خپل سلطنت اعلان کړي.

(همان اثر، ص ص ۳۸۸- ۳۸۷)

ليدل کيږی چي د هيواد په ټول تاريخ کي استعماري ځواکونه او زموږ د هيواد دښمنان د هيواد ملي اتلان په نښه کوي او د له منځه وړلو په لار کي يي له هر ډول توطيو او دسايسو نه کار اخلی تر څو خپلو شومو موخو ته ورسيږی.

نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ